عبدالغفور لېوال ۲۰۲/۱۲/۰۱

# همدا زما د مبارزې لار وه او ده!

وېل: د جګړې په اړه څه فکر لرې؟
ما وېل:
جګړه دې تل او په هر حال کې ورکه شي، ورځخه کرکه لرم.
وېل:
نو له استبداد سره به څه کیږي؟
ما وېل:
د تاریخ هېڅ استبداد په جګړه راپرځېدلی نه دی، ان چې هېڅ یوه ریښتینې خپلواکي لا په جګړه ګټل شوې نه ده او که ګټل شوې هم وي، ساتل شوې نه ده.
ریښتینې خپلواکي د ولس په یووالي، وېښتیا، روښانتیا، مختګپالنه، عصري پوهنه و اقتصاد ساتل کیږي و بس!
د خپلواکۍ لپاره باید د استبداد، تحجر، شاتګپالنې او خرافاتو په وړاندې تر جګړې زر ځله سخته او جدي مبارزه وکړو.
وېل:
نو څنګه؟
ما وېل:
میلیونونه ولس باید ویښ و روښانه کړو.
ملت که خپل انساني حقونه وپېژندل، پخپله یې ځان ته له وینو پاکلاسې او له فساد څخه پاکلمنې مشري وټاکله او بیا یې په ملي ولولو د انساني حقونو د ګټلو په پار د شعور او ارادې څراغونه بل کړل، هله به د استبداد بنامار مړ او د جهل دیو راوپرځیږي!
د ځلوېښت میلیونه څراغ په لاس ملت په وړاندې به کومه تیاره وپایېدلای شي؟!
همدا زما د مبارزې لار وه او ده!

**ویښتیا، روښانتیا او بدلون**




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ